د افغانستان اقتصادي حالت ته یوه کتنه

عبدالحق امیری

Download from: aghalibrary.com

د افغانستان اقتصادي حالت ته يوه کتنه

(وروستی دوې لسيزې)

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

ليکوال

عبدالحق اميری

ژباړن

صلاح الدين

١٣٧٨

PROPERTY OF
ACKU

Download from: aghalibrary.com

د کتاب پېژندنه:

*د کتاب نوم : د افغانستان اقتصادي حالت ته یوه کتنه

*لیکوال : عبدالحق امیری

*ژباړن : صلاح الدین

*کمپوزر : محمد وسیم عزیز

*دچاپ کال : ۱۳۷۸/ ۱۹۹۹م

*دچاپ ځای : پېښور

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

اریک له دوو کلونو راهیسې د افغانستان بېلابیلو ولایاتو ته د ګرځنده کتابتونونو دلېږلو پروګرام جوړ کړی دی؛ ګرځنده کتابتونونه د اوسپنیزو صندوقونو په بڼه جوړ شوي، د هېواد په یوه برخه کښې په یوه ځانګړي ځای کښې ایښودل کېږي د سیمې خلک راځي کتابونه په امانته توګه اخلي، لولي یې خپلو شا او خوا نالوستو کسانو ته یې اوروي، بیا یې بېرته راوړي او په بدل کښې بل کتاب اخلي او په دې ترتیب په سیمه کښې د کتابتون ټول کتابونه لوستل کیږي او بیا دا ګرځنده کتابتون بوې بلې سیمې ته وړل کیږي.

موږ هڅه کړې دې کتابتون ته داسې کتابونه راغونډ کړو چې له یوې خوا یې ژبه ساده او اسانه او بلې خوا د خلکو د استفادې او اړتیا وړ خبرې او مطالب ولري او له دوی سره په روان ژوند کښې عملې مرسته وکړي، لکه د کرنې، لاسي کارونو، چرګانو روزنې او نورو چارو کښې.

موږ په دې ترڅ کښې دا سروې هم کوو چې خلک نورو کومو آثارو او کوم ډول موادو ته اړه لري، چې په دې لړ کښې موږ ددوی ګټې غوښتنې او د اړتیا وړ مواد لست کړل خو متأسفانه په دې برخه کښې مو کتابونه ونه موندل

Download from: aghalibrary.com

چې د دوی په گرځنده کتابتونونو کښې یې ځای پر ځای کړو.

د دې تشې د ډکولو له پاره مو یو کال وړاندې «یو نوچا» ته وړاندیز وکړ چې مالي مرسته وکړي او موږ دې گرځنده کتابتونونو له پاره په خپله یو شمېر د اړتیا وړ کتابونه چاپ کړو او د خلکو غوښتنو ته په خپل لاس د عمل جامه ور واغوندو؛ هغوی زموږ وړاندیز و مانه او یو موټی پیسې یې راکړې. موږ دې له پاره چې کار سیستماتیک او ښه گټور شي دې کار ته مو د تهیې یوه ډله وټاکله چې هم زموږ د اداري غړي پکښې دي او هم د هېواد یو شمېر مجرب او له دې کار سره علاقمند لیکوال او مؤلفین چې په گډه به کار کوي، د اړتیا وړ کتابونه به یا په خپله او یا د هغو لیکوالو په وسیله چې په ټاکلي موضوع کښې تخصص او مهارت لري، تهیه کوي او د کتابونو د پلانگذارۍ، تهیې، چاپ او وېش ته د چمتو کېدلو ټول پړاوونه به یې په گډه پر مخ بیایي. دا ډله د افغانانو له خواخوږې میرمن نانسي هچ دوپرې، حبیب الله رفیع، سر محقق زلمی هېواد مل، حسین فخري، محمد فهیم رحیمیار او محمد رفیع څخه جوړه ده.

موږ د هېواد په کلیو، باندو او ښارونو کښې د گرځنده کتابتون له ټولو گرانو لوستونکو څخه هیله کوو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولیږي او د هېواد له ټولو پوهانو او عالمانو څخه هیله لرو چې په دې لاره کښې را سره مرستې شي چې په دې برخه کښې له ښه نه ښه کتابونه وړاندې کړای شو!

په درنښت

«د اریک گرځنده کتابتونونو اداره»

فهرست

عنوان	مخ
پیلامه	۱
سریزه	٤
د افغانستان جغرافیایی او اقلیمی وضعیت	۷
مهاجرت او بېځایه کېدنې	۹
کرنه او مالداری	۱۱
ځنګلونه او څرځایونه	۱۵
طبیعي سرچینې او انرژي	۱۷
صنایع او لاسی کارونه	۱۹
د کار بازار	۲۲
کورنۍ او بهرنۍ سوداګري	۲٤
مالي سیاست او دولتی مصارف	۲۷
د بانکداری سیستم	۲۹
پیسې او بې جلبه تورم	۳۱
ترانسپورت او ملکی هوانوردی	۳٤
مواصلات او ا طلاعات	۳۷
کور جوړول	۳۸
بیوزلي او سیمه ییزې نا اندو لي	٤۰
د خوراکی موادو شته والی	٤٤
د بین المللی تولنو بشری او براختیا یی مرستی	٤٦
روغتیا	٤۸
ښوونه او روزنه	۵۰
د استفادې وړ منابع	۵۲

پیلامه

اقتصاد په لغت کې د انډول مانالري. اقتصاد هغې پوهنې ته ویل کیږي چې بشري کړه وړه د موخو (هدفونو) او کمیابو وسایلو تر منځ – چې ډول ډول ګټې تري اخیستل کیږي – د اړیکې په څیر څیړي. دا تعریف که څه هم بشپړ نه دی او اقتصاد پوهان د دې پوهنې لپاره ډول ډول تعریفونه لري چې په دې رساله کې یې له راوړو ډډه شوې.

اقتصادي اړیکو د بشر له پیدا ښت نه تر دې دمه د انساني ټولنې سره ملګرتیا لرلې ده. که تاریخ ته وګورو د ډیرو پراختیا غوښتنو، خونړیو جګړو، لښکر کشیو، او زور چلولو ریښې اقتصادي عوامل وو.

د تولید زمینو ته لیوالتیا، کارلټول، لا ډیره ګټه کول، داړتیا وړ څیزونو پلورل او رانیول، د نرخ څارل، د ژوند د سطحې پراختیا او نور، هغه

عوامل دي چې انسانان او حکومتونه لا ډېر هڅوته لېواله کوي.
د اقتصاد پوهه د انسان لومړنيو اړتياوو، لکه اوبه، خوراک، پوښاک او نورو په لټولو او برابرولو ټينګار کوي. تجربه راښيي چې که د انسان دغه بنسټيزې اړتياوې پوره شي نورې غوښتنې لکه امنيت او د مال او سر ساتل را برسيره کيږي او چې دغه بشري غوښتنې هم ترسره شي نورې غوښتنې، لکه د لا ډېر مالونو ترلاسه کول، حشمت او جلال، مينه او محبت او نور راپورته کيږي. انسان تل غوښتنه لري تر هغه څه چې يې لري لا ډېر وګټي.
په پر مختللې نړۍ کې د کور، موټر، تلويزيون، يخچال درلودل په لومړنيو اړتياوو کې شمېرل کيږي. خو په وروسته پاته هيوادو کې ډېر لږ وګړي پر دغو اسانتياوو لاس بري دي. څومره چې مدنيت پرمخ درومي، ورسره د خلکو غوښتنې هم تل مخ په زياتيدو وي. په همدې اساس د خلکو د ژوند د آسانتيا لپاره نوې تکنالوژي ورځ په ورځ وړاندې کيږي. نن د زرګونو وګړو ځای کمپيوټر نيولی دی او د زرهاوو نورو لپاره يې د کار او ګټې زمينه برابره کړې ده.
له بده مرغه انساني نړۍ د بيعد التۍ او ډول ډول نابرابريو نه ډکه ده. که د ځمکې په يوه ګوټ کې انسان له مادي نعمتونو څخه خوند اخلي په بل ګوټ کې د يوې مړۍ ډوډۍ په هيله زرګونه انسانان خپل ژوند له لاسه ورکوي. د افغانستان په جګړه ځپلي هيواد کې لا هم خلک دوچې ډوډۍ په تکل کې دي. د عصري ژوند له نعمتونو او نوې تکنالوژۍ څخه بې برخې دي. دا هيواد چې لا پخوا په وروسته پاتې هيوادو کې

شمیرل کیده د جګړې کلونو په ترځ کې کنډواله شوی دی. له یوې خوا د ګټې زمینې محدودې شوې او له بلې خوا د زیرمو لړوالی او د پانګه اچونې نه تشویق د اقتصادي پر مختګ مخنیوی کړی دی. ډیر ملی پانګه وال له هیواده تللی، کارخانی ویجاړې شوې، مالونه یې لوټ شوي او د مالیې ټولولو سیستم او په پرمختیایي هڅو کې د دولت د بودجې ویش تس نس شوی دی.

دا رساله چې په ډیره ساده او عام فهمه ژبه برابره شوې د هیواد اقتصادی حالت په کلي ډول نه څیړي ځکه چې دا ډول کار لا ډیرو څیړنو ته اړتیا لري. اصلی هدف دادی چې ځوان نسل د هیواد د اقتصادی سرچینو او مبادیو په هکله پر څه ویوهیږي او پر خپل ټولنیز او شخصی ژوندانه دې کوږ ګډې جګړې تاثیر تر څیړنې لاندې ونیسي.

و ماعلینا الاالبلاغ

عبدالحق امیری

اسلام آباد

سریزه

د افغانستان ورو سته پاتې هیواد د دوولسیزو ویجاړوونکو جګړو په ترڅ کې د سیاسي، نظامي او اقتصادي بدلونونو شاهد وچې دا ګرده بدلونونه د دغه هیواد د ټولو اقتصادي او اجتماعي بنسټونو د ویجاړیدو سبب شوي دي. دغه اوږده جګړه له ورانیو او لوټ بر سیره د زیاتیدونکو بدمرغیو او تکلیفونو لکه ډله ییزی وژنې، بیځایه کیدنې، د خلکو د مالونو د لوټ او تالان سبب ګرځیدلې دي. د هیواد ټول اقتصادي بنسټونه، لکه کانونه، سپکې او درنې صنایع، دولتي اداري، د استوګنې کورونه، د ټولیزو اړیکو سیستم، د ښوونې او صحي نظام او نور د دغې کور ګډې جګړې له امله تباه شوي دي. د ثور د اوومې له کودتا څخه د افغانستان د خلکو د بدمرغیو پیل ګڼل کیږي، تردې پخواهم افغانستان د وروسته پاتوهیوادو په کتار کې ځای درلود او د سړي سر منځنې عاید یې ۱۳۰ امریکایي ډالره اټکل کیده. (مینځنی عاید = د یوه ټولګې مجموعي عاید چې د ټولګې دوګړو پر تعداد وویشل شي.) په مختلفو هیوادو کې د خلکو د ژوند د سطحې د

پر تله کولو لپاره معمولاً د سړي سر عاید چې د عاید دویشلو د ډول ښکارندوی دی کار اخیستل کیږي. دیادولو وړده چې د حسابولو دغه معیار هم څه نیمګړتیاوې لري چې تر ټولو مهم یې د هیواد دوګړو ترمینځ دعاید مساویانه ویش دی.

په ۱۹۷۹م کال کې د هروګړي داخلي ناخالص تولیدات ۱۴۳ او د هر وګړي ملي ناخالص تولیدات ۱۷۰ ډالره اټکل شوي وو. داخلي ناخالص تولیدات د تولید شوو څیزونو او خدمتونو د بازار په بیه له ارزوني وروسته یو پریل باندې د هغو دارزښت له زیاتولو لاس ته راځي. ملي ناخالص تولیدات له داخلي ناخالصو تولیداتو سره د هیواد دوګړو په بهر کې د پانګې اچوني له زیاتولو او د داخلي بازار د عاید له کسر څخه لاس ته راځي.

پخوا اقتصادی عمده فعالیتونه د حکومت له خوا څارل کیدل، یوازې د کرنې سکتور او یوه اندازه هم تجارت د خصوصي سکتور په واک کې و. دې وضعیت د جګړې په کلونو کې بدلون وموند. د کوچنیو پانګه والو د هڅوني په خاطر د افغانستان دولت په ۱۹۸۷م کال کې مشورتي شوری جوړه کړه، که وکولی شي خصوصي سکتور ته پراختیا ورکړي. د جګړې په ترڅ کې د مرکزي دولت پدل ورو وروورا ولوید او سیمه ییزو سیاسي او نظامي ځواکونو د هیواد په مختلفو برخو کې د خپلې خوښې او یو څه خو د مختارې ادارې جوړې کړې. دې کار سره له دې چې انارشیزم او بې بندوبارې رامینځته کړه د خصوصي سکتور د هڅونې او پراختیا سبب هم ګرځید.

د ملګرو ملتو د پراختيايي پروګرامونو (UNDP) دفتر د اټکل له مخې په ۱۹۸۹ م کال کې د هيواد د داخلي توليداتو په سلوکې ۶. ۸۱ له خصوصي سکتور څخه برابريدل چې د هغو په سلوکې ۹۹ يې د کرنې سکتور له محصولاتو لاس ته راتلل. د ۱۹۹۲ م کال په خپل مينځې نښتوکې د هيواد ډير صنعتي موسسات ويجاړ، مالونه او ماشين آلات يې تالا شول.

د تاسيساتو لږ شمير چې په ځينو ښارونو کې د جګړې له ګواښ څخه خوندي پاتې دي لا فعاليت لري.

په کليو او بانډو په تيره د هېواد په شمالي برخو کې د کورنيو له اقتصاد سره حرفه يي توليدات مرسته کوي. غالۍ او ټغراو بدل، خامک ګنډل او نور رواجي لاسي صنايع اکثراً د ښځو په لاس سرته رسيږي او د نارينه وو په واسطه بازار ته وړاندې کيږي.

په اوسني روان حال کې د هيواد اقتصاد د بهرنيو هيوادو د سمدستي بشري مرستو، له د ښمنو ډلو سره د هغوی د بهرنيو ساتونکيو له دوه اړخيزو مرستو، د مخدره موادو توليد، د کوکنارو کر او بهرني تجارت په ذريعه ساتل کيږي. کرنه او مالداری د هيواد د اقتصاد د عمده عناصرو په څير خپل اهميت ساتلی دی.

د افغانستان جغرافیایی او اقلیمی وضعیت

افغانستان په وچه کې چاپېر یو هېواد دی چې په منځنۍ آسیا کې ځای لري. د افغانستان ګاونډیان د ایران اسلامي جمهوري لویدیزه خوا، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان په شمال کې، د چین ولسي جمهوریت په شمال ختیځ او پاکستان یې په سهیل او سهیل ختیځ کې دي. سره هوا د کرنې ورزمکو لږوالی، د کرنې د وسایلو دودیز توب او د اوبه خور نیمګړی سیستم، د کرنې له پرمختللیو لاروچارو سره د بزګرانو نابلد تیا د متخصصینو او کرنیزو نویو آلاتو لږوالی او د کرنې چاروته د مسوولو مقاماتو نه پاملرنه له هغو عواملونه دي چې په خپل وار د هیواد د اقتصادي وروسته پاتې والي سبب شوي دي. د هیواد آب و هوا په مختلفو برخو کې توپیر سره لري. په سهیل او سهیل لویدیځ ولایتونو کې هوا نسبتاً وچه ده. د هیواد په ډیرو برخو کې د هوا وضعیت د للمي کرکیلې لپاره چندان وړتیا نه لري. د ملګرو ملتو د کرنې او خوراک دفتر (FAO) د ۱۹۹۷ م کال له ګزارش سره سم د بدخشان په ولایت او مرکزي غرونو، مشرقي او جنوبي کې کافي باران اوري. په دې سیمو کې کنګل کیدل محدودو کوونکی عامل دی. ختیز او جنوبي ولایتونو کې لږ باران اوري خو په دې سیمو کې د کرنې فصل

په کافي اندازه اوړد او آبي زمکې اکثراً دوه فصله دی.
په للمي زمکو کې د کافي باران نشتوالی هغه هم په مناسب وخت کې د
کرنيزو توليداتو د کمښت سبب گرځي.
د (FAO) د ۱۹۹۷ کال له گزارش سره سم د هيواد د اوبو د سرچينې
نژدې ۸۰ په سلو کې د هندوکش له غرونو دي. د هيواد آبي زمکې
۳ . ۵ ميليونه هکتاره اټکل شوې چې د هيواد د پراخوالي په سلو کې
۵ . ۵ جوړوي. له دې ټولگي په سلوکې ۱٤ دو فصله، ۲۲ يو فصله او
۲ ، ۵ بڼونه دي. او په سلوکی ۲۲ نورې هغه زمکې دي چې په وار سره
کرلې کيږي. للمي زمکې ۸ . ٤ ميليونه هکتاره اټکل شويدی چې د
هيواد ټولې خاورې په سلو کې ۸ جوړوي. د هيواد د خاورې په سلو کې
۷۰ له لوړو او غرڅايونو جوړه ده او ۹ ، ۲ يې په ځنگلونو پوښلی ده.
طبيعي آفتونه، لکه نيزونه، شديدې زلزلې، د زمکې ښوييدنې او نور
په ځپل شويو سيمو کې د ربړوونکو اقتصادی ستونزو سبب گرځي. په
کال ۱۹۹۱ کی د ريکتر په کچ ۵ ، ٦ درجې يوې شديدې زلزلې د هيواد
په شمال کې په دولتي او شخصي املاکو کې ډيرې ويجاړ تياوې
راوستی او ډير خلک او مواشي پکې سڅ شول. په همدغه وخت کې
ويجاړوونکي نيزونه په جنوب لويديزو ولايتونو کې زښت ډير ورانی
پيښې کړ. په کال ۱۹۹۳ م کې دريکتر په کچ ٤ درجی زلزلی هم په
شمال کې د ډيرو ورانيو سبب شوې.
د ۱۹۹۸ کال په ژمي او پسرلي د تخار او بدخشان په ولايتونو کې د
دوو مدهشو زلزلو شاهدان وو چې د دريکتر په کچ ۱ ، ٦ او ٦ ، ٦ درجې

وي چې درستاق، چاه آب او شهر بزرگ په ولسواليو کې يې په لسګونو کلي په کنډوالو بدل کړل. د دغو زلزلو په اثر له ۴۰۰۰ کسانو نه زيات مړه او سلګونه نوريې خپل کورونه او شته (که څه هم نيشتوکي وو) له لاسه ورکړل. د پروسږ کال ژمي (فبروري ۱۹۹۹) زلزلې د وردګو او لوګر ولايتونو کې نژدې ۱۶۰۰۰ کورونه وځپلې. که څه هم د مرستې رسولو موسسې، لکه ملګري ملتونه، نړيوال سره صليب او نور غير حکومتي مؤسساتو په چټکۍ له ځپل شويو خلکو سره د مرستې له پاره و د انګل او لومړني اړتياوې، لکه خوراک، کمپلې او خيمې يې پر خلکو وويشلې، سره له هغو له طبيعي آفتونو نه زيږنده ويجاړتياوو د هغو سيمو د خلکو له کړاوه ډک ژوند يې لا پسې ستونزمن کړی دی.

مهاجرت او بېځايه کېدنې:

له غير رسمي اټکلونو سره سم تر ۱۹۹۶ م کال پورې د هيواد دوګړو شمير ۲۱ ميليونه تنه اټکل شوی دی چې په دې رقم کې بنايي له هيواده بهر مهاجرين نه وي راغلي او دا ټول ارقام اټکليز دي. کومه سرشميرنه چې د شاهي او محمد داؤد خان د جمهوري حکومتونو په وخت کې په نظر کې وچې وشي سرته ونه رسيده او د حفيظ الله امين د اټکليزې سرشميرنې پايلې دومره بې بنسته او مسخره وې چې په خاطرو کې هم نه دي پاتې.

په افغانستان باندې د سرو لښکرو د تيري په اثر د پنځو ميليونو تنونه زيات افغانان پاکستان او ايران ته مهاجر شول. د روسي ځواکونو له وتلو وروسته له دښمنيو ډکو جګړو په اوږدو د مهاجرت خوځښت په

یو څه لږ کچ سره ګاونډیو هیوادو ته دوام ومونند. په ۱۹۹۲ م کال د مجاهدینو په واکمن کیدو سره په دې هیله چې جګړې پای ته رسیږي له یونیم میلیونه زیات مهاجر په بیره له پاکستان او ایران نه هیواد ته ستانه شول. تنظیمي جګړې د رزګونو انسانانو د بیځایه کیدنې سبب شوې چې د جګړې له اوره یې تیښته کوله. په ۱۹۹٤ م کال په کابل کې د جنرال دوستم ځواکونو په ګډون او د حزب وحدت په پلوي د اسلامي ګوند جګړه له جمعیت سره چې د استاد سیاف د ځواکونو پلوی هې له ځانه سره لرله د کابل ښار د پنځو سوو زرو بیوزلو وګړو د بیځایه کیدنې سبب شوې چې د جلال آباد ښار د شاوخوا سوزنده بیدیاوو کې ترخیمو لاندې تر ۱۹۹۷ م کال پورې د نړیوالو سازمانونو په مرستو ژوند کاوه.

لاهم زرګونه انسانان د هیواد په مختلفو سیمو کې د جګړو له امله له بدې ورځې له خپلو کورونو وتي او په داډمنو ځایونو کې موقتي ژوند تیروي. همدا و چې په حقیقت کې د هیواد تولیداتو او په تیره د کرنې او مالدارۍ په سکتور کې د پرله پسې کمښت سبب ګرځیدلي دي. جګړې د خلکو د ژوند څرنګوالی ته بدلون ورکړی او د جنائي پیښو وژلو، جرمونو او معیوبیتونو د پراخیدو سبب ګرځیدلي دي.

کرنه او مالداري

الف: کرنه:

د افغانستان اقتصاد تل په کرنې او مالدارۍ تکیه لرلې ده او په سلو کې نږدې ۸۵ خلک د کرنې او مالدارۍ په دنده بوخت دي. د اساسي بنسټونو د ویجاړتیا او د هیواد په ګوټ ګوټ کې د میلیونونو په شمیر د ځمکنیو ماینونو له شته والي سره سره، کرنه او مالداري د خوځنده اقتصاد عمده برخه ده. کرنه د افغانستان د اقتصادي پراختیا په پروسه کې وچت ځای لري.

ځکه د دغه ژوند بخښوونکي سکتور وده د کرنیزو لاسته راوړنو د زیاتوالي او د هیواد د ډیرو خلکو د ژوندانه د سطحې د ښه والي سبب ګرځي.

د جګړې له کلونو د مخه د هیواد د صادراتي توکیو په سلو کې ۷۲ د کرنې سکتور برابرول. همدا ډول په سلو کې ۳٤ دولتي پانګه اچونې د دې سکتور په واسطه جذب شوې او په سلو کې ٥٦ دولتي عایدات هم له همدې برخې برابریدل. د ۱۹۷٤ - ۱۹۷٥ کلونو کې د هیواد د کرنیزو تولیداتو په سلو کې ۷۱ غنم، جوار، وریشې او وریژو جوړول. میوو او سبو په سلو کې ۲٥ پنبې په سلو کې ٥، ۲ او ګنیو په سلو کې یو

د ټولو کرنيزو توليداتو برخي جوړولي. غوړي ورکوونکي داني او نور محصولات په لوړه اندازه توليد يدلي. تر کال ۱۹۹۳ په کرنيزو زمکو کې نژدې ۳۵ فيصده لړوالي پيښ شوی دی. حال دا چې په دغه کال په کرنيزو توليداتو کې د جګړې نه د مخه کلونو په پرتله په سلو کې ۵۰ راټيټيدنه اټکل شوې وه. د (FAO) له ګزارشاتو سره سم د کال ۱۹۹۳ م لپاره د هيواد د خړوبولو سيستم په سلوکی ۲۵ ويجاړ شوی دی چې د آبی زمکو موازې يې ۱،۵ مليونو هکتارو ته راټيټ کړی دی.

د جګړې د مخه کلونو کې، د افغانستان دولت د کرنې اصلاح شوی تخمونه او کيمياوې سرې يې د پوره په دول د هيواد بز ګرانو ته ورکول چې د کرنې د پراختيا بانک په واسطه به تنظيميدل. دغه سيستم هم د جګړی په کلونو کې تس نس شو. پرله پسې جګړو د کورنيو توليداتو اندازه راکمه کړه، د خړوبولو سيستمونه او نور اقتصادی لومړنی بنسټونه يی ويجاړ کړل او د تخم او سرې درانيولو او ويشلو او د نورو کرنيزو وسايلو دويش جريان يو مخ بندشو. ډيرې زمکې ناکرلې پاتې شوې او د يوې غوا يان له مينځه لاړل او ځنګلونه هم وران شول.

د امنيت او آرامی په بيرته راتګ سره د هيواد په ډيرو سيمو کې کرنيز سکتور مخ په ښه والي روان شوی دی. په وروستيو کلونو (۱۹۹۷ م او ۱۹۹۸ م) کې چې کومه سروې شوې ده په کرنيزو توليداتو کې زياتوالی راښيی . که څه هم کرنيز توليدات د خلکو د لومړنيو اړتياوونه څو ځله لا هم کم دي. د (FAO) د ۱۹۹۶ م کال کرنيزه سروې

ځرګندوي چې د اصلاح شوي تخم د حاصلاتو مینځنی برید په هر هکتار زمکې ٦ ، ٢ ټنه دی. هغه نمونې چې په دې را وروسته ١٩٩٤ م او ١٩٩٥م کلونو کې تجربه شوې دي د حاصلخیزۍ اوسط په هر هکتار آبي زمکه کې ٩ ، ٢ ټنه راښيي. (کرنیزه ستراتیژي FAO - ١٩٩٧).

په کرنیز سکتور کې ښځې ستر ځای لري. هغوی د سبو په کر، خیشاوه، د شولو نهالولو، د چرګانو روزل، مالداري او د وریښمو د چینجو په روزنه او تولید کې رغوونکی ځای لري. په کرنیزو هڅو کې د ښځوونډه اخیستل د هغوی په نژادي ډلو او د هغوی د کورني اقتصاد په ځرنګوالي پورې تړاو لري. په ځینو سیمو، لکه نورستان کې ډیرې کرنیزې هڅې د ښځو له خوا ترسره کیږي.

په اوسنیو شرایطو کې اپیم او خشخاش د کرنیزو محصولاتو ستره برخه جوړوي. پخوا به کوکنار په لرې کلیو (چې د دولت د نفوذ او څارنې له ساحې نه لرې وو) کرل کیدل. د قانون د ځواک د تنفیذ نشتوالی، ناوړه اقتصادي حالت، د تولیدي موسساتو ویجاړتیا او اپیموته دورځ په ورځ زیاتیدونکی غوښتنی سره یو ځای د کوکنارو د کرد پراختیا سبب ګرځیدلي دي. ننګرهار، کندهار، هلمند او بدخشان د اپیمو ستر تولیدونکی ولایتونه ګڼل کیږي. د تریاکو د کلني کر د هغې سروې سره سم چې په ١٩٩٨م کال کې چې د مخدره موادو د څارنی موسسی (UNDCP) له خوا وشوه د اپیمو تولید په ١٩٧٨ م کال کې ٢٠٠ ټنه و، اما په ١٩٩٧ م کال کی یې ٢٨٠٤ ټنوته زیاتوالی موندلی دی.

ب: مالداري:

مالداري او دڅارويو روزنه د کرنيز سکتور ستره برخه جوړوي. په راتلونکې کې په هم دغه مشغولا د هيواد اقتصادي پراختيا او پر مختګ کې ستر ځای ولري. د مالداری له لارې کيدای شي چې خوراکی مواد برابر او پولی عوايد لوړ کړای شي. کوچيان او هغه خلک چې د هيواد په ګوټ ګوټ کې د څارويو په روزنه بوخت دي د خپل د ژوندانه اړتياوي له همدې لارې برابروي. د هيواد مشهور اهلی څاروي پسه، وزه، غويي، آس، خر، کچره او نور دي.

له جګړې نه د مخه افغانستان په نيويارک او لندن کې د قره قل بازارونه په انحصار کې لرل چې د بهرنيو اسعارو د راتلونې دپاره ښه چينه ګڼل کيده.

د افغانستان حکومت له دې برخې نه د لازياتې ګټې په خاطر د قره قل د توليد د پراختيا لپاره په جدی اقداماتو لاس پورې کړ چې د څارويو د روغتيا او د څرځايونو د ساتنې او څارنې په برخه کې د علمی څيړنو سبب وګرځيد. په پايله کې د هيواد په شمال، ختيځ او سهيل کې دولتی فارمونه تأسيس شول او په ټولو ولسواليو کې د څارويو کلينيکونو پراختيا وموندله.

د جګړې دوولسيزو د ولتی فارمونو او د شخصی مالداری کړو وړوته نه جبيره کيدونکی زيانونه رسولي دي. د (FAO) د حيوانی پروژې د ۱۹۹۷م کال ګزارش څرګندوي چې د رسيدلو زيانونو اندازه په سلو کې له ۴۰ تر ۵۰ د يوې په غوايانو کې، په سلوکی ٦٧ په نورو څارويو کې

او په سلو کې ۷۰ د قره قل په تولید کې اټکل شویدی. د جګړې او قومي دښمنیو په سختیدو د شمال په سیمو کې د قره قل تولید او د پسونو روزنه کې ډیر زیات کموالي راغلی دی. د جګړې اوږدیدل، د کوچیانو او مالدارانو تګ راتګ یې محدود کړیدی.

د (FAO) د څارویو د تولید د ګزارش په اساس چې په کال ۱۹۹۷م کې خپور شو د هېواد څاروي ۷، ۳ میلیونه غوایان، ۲۲ میلیونه پسونه، ۹ میلیونه وزې، ۳۷۰۰۰۰ آسونه، یو میلیون خره، او ۲۸۰۰۰۰ اوښان اټکل شویدي. د ملي اقتصاد ددغی ستري برخې بیا رغلونه د څارویو د روزنې او د تولید توان د زیاتولو او پراخوالی ته اړدی چې بزګران وکولای شي په خپله د خپلو څارویو شمیر ته د یوې عایداتی سرچینې په توګه زیاتوالی ورکړي.

ځنګلونه او څرځایونه:

د هیواد ځنګلونه او ورشو ګانې هم د ژوند د چاپیریال د ښکلا او سلامتیا او هم د بهرنیو میلمنو او توریستانو د راتلو له لارې د پریمانه عوایدو د لاسته راوړنې او د څارویو د روزنې لپاره ستر اهمیت لري. له یو پلوه د ځنګلونو له لرګو په کور جوړولو او بهرته د هغو له صادرولو نه ګټه اخیستل کیږي او له بله پلوه د هیواد اوچت او آسمان څک غرونه د ځنګلونو په واسطه په ښکلو او لیدنې وړ سیمو بدلون موندلی چې د خارجي توریستانو د هڅونې او تخنونې سبب ګرځي. د ځنګلونو نورې ګټې د هوا پاکول، دوبجاړوونکیو نیزونو مخنیوی او وحشي څارویو ته پناه ورکول دي. د دولتي زمکو په هکله د ۱۹۸۹ کال د ارقامو سره

سم، ځنگلونو نژدی ۹، ۱ میلیونه هکتاره زمکه نیولې ده چې د هیواد د ټولې خاورې په سلو کې ۹، ۲ جوړوي. د کونړ او نورستان ځنگلونه د هیواد تر ټولو مشهور او ښکلي ځنگلونه حسابیدل. د پکتیا ځنگلونه گڼ وُاو تر ډیره د ځېړیو او ولودونو په واسطه پوښل شوي وو.

خو افسوس چې دغې ویجاړوونکې جگړې د هیواد ښکلي او گڼ ځنگلونه په لومړني گام په تباهۍ کې ښکیل کړل. د پخواني شوروی عساکرو له خوا ځنگلونو ته د اوراچونې پالیسۍ له یوې خوا او له بله پلوه د لرگو د تاجرانو نه مړیدونکي هوا او هوس د هیواد گڼ او ښیرازه ځنگلونه د نابودۍ برید ته ټیل وهل. د حکومت او قانون د نشتوالي له امله لاهم د سیمې خلک ښبرازه او ځوانې ونې په ډیرې بې دردۍ وهي او د نیشتوکي متاع په بدله کې یې د پاکستان بازارونو ته وړاندې کوي.

د هیواد په شمال او لویدیځ کې د پستې او غرني نښترو ځنگلونه وهل شوي او له هغونه د سون د لرگو لپاره گټه اخیستل کیږي.

غیر رسمي گزارشونه وايي چې هره ورځ ۳۰ تر ٤۰ لارۍ لرگې د چمن له لارې د پاکستان خاورې ته ننوزې. ددې ځنگلونو د اهمیت او سر شارو عوایدو په نظر کې درلودلو سره ښايي افغاني مقامات په راتلونکي کې د ځنگلونو له وهلو په کلکه مخنیوی او د ساتنې او څارنې لپاره یې اقدام وکړي.

طبیعی سرچینې او انرژي

د طبیعی زیرمو دلرلو له پلوه افغانستان نسبتاً بډای دی. د هیواد سترې زیرمې طبیعی ګاز، وسپنه، مس، لاجورد، مالګه، د چونې او مرمرو ډبرې، د ډبرو سکاره او نور دي. همدا ډول یورانیم، سپین زر، سره زر، سلفر، نیکل، لتیوم، مګنیشیم فلورایډ او نور کانونه په کافی اندازه په هیواد کې پیدا کیږي. د هیواد د اوسپنی او مسوزیرمې د نړۍ دریمې سترې زیرمې ګنلی کیږي. د هیواد طبیعی ګاز له ۱۰۰ تر ۱۵۰ میلیون متر مکعبه پورې اټکل شوی وچې پخوا یې د هیواد د ټولو صادراتو په سلوکې ۵۰ برخه جوړوله.

او د نړیوالې بیې نه په ټیټه بیه پخوانی شوروی ته صادریده، د طبیعی ګاز پلورل د جګړې په کلونو کې بند شول. د ګاز تولید او وړاندې کول د مجاهدینو د عملیاتو او شوروی عساکرو په واسطه د ګاز د څاګانو د ورانولو له امله بند شول. د ګاز د څاګانو د ویجاړتیانه را رسیدلی زیانونه په کال کې ۲۰۰ میلیونه ډالره اټکل شوي دي (د ملګرو ملتو د انرژی د محاسباتو کالنی).

د ډبرو سکاره د هیواد دوهمه زیرمه جوړوي چې د هغو حجم ۱۰۰ میلیونه ټنه تاکل شوی او ۴۰۰ میلیونه ټنه اټکل شوی وی.

اټکلونه د هیواد د تیلو زیرمې ۲۰۰ میلیونه بیرله ښیي پخوانی شوروی پلان درلود چې په کال کې ۵۰۰۰۰ متریک ټنه تیل د هیواد په شمال کې چاڼ کړي چې دا کار د جګړې له امله وځنډید.

په اوسني افغانستان کې د برقي انرژۍ د کموالي نه رامینځته شوی تنګسې اقتصادي مهمو هڅوته تاوان رسوي او د ژوند چاپیریال اغیز منوي ده کابل د هایدرولیکي برق له فابریکي پرته چې ۱۰۰ میګاواټه قدرت لرې یو شمیر واړه د انرژۍ هایدرولیکي موسسات د هیواد په ځینو مهمو ښارونو کې لا فعال دي. همدا اوس د برق د تولید ۲۲ فابریکي په هیواد کې فعالې دي چې ۱۷۵ میګاواټه برق په هره ګړۍ کې تولید وي. د ۱۹۷۸ کال نه مخکې هیواد په سلو کې یوازې شپږ خلکو د برق له انرژۍ نه ګټه اخیستله چې دغه رقم د جګړې په کلونو کې زښت کم شوی دی.

د کابل بریښنا د انرژۍ مرکز د تنظیمي جګړو له امله زښت ډیر تاوان لیدلی دی. په ۱۹۹٤م او ۱۹۹۵م کلونو کې د کابل په ښار کې بریښنانه وه او د ښار په ډیر برخو کې د بریښنا مزي غلا شول. د بریښنا نشتوالی نه یوازې د کابلیانو توري شپې بې لا تورتمې کړې بلکه ژوندیې د کابل پرښاریانو تریخ کړی وځکه ډیرو خلکو د خپلو کورونو د تودولو لپاره په ژمي کې او د ډوډۍ د پخلي لپاره له بریښنا نه کار اخیست: د طالبانو په لاس د کابل د نیولو نه وروسته، د کابل د بریښنا انرژۍ د ملګرو ملتونو د سازمان او غیر دولتي مؤسسو په مرسته بیا رغول شویده او اوس د کابل په ډیرو ناحیو کې بریښنا شته.

صنایع او لاسي کارونه

صنعتي اداري او د صنعتي توليداتو زياتوالی د هيواد په اقتصادي پراختيا او د سړي سر درآمد په اوچتوالي کې د زښت ډير اهميت درلودونکی دي. د صنعتي کولو پروسه د صنعتي انقلاب له پيل نه راپديخوا د اقتصاد پوهانو ترمينځ مطرح وه ځکه دغه سکتور د صنعتي هيوادونو سړي سرعايد يې په چټکۍ سره لوړ کړی دی. د يوې تولنې صنعتي کيدل د ښارو لا پراختيا سره همغاړه وي. صنعتي فابريکې که کارونه پيدا کوي، د هيواد توليدات زياتوي او د کليونه ښارونو ته د مهاجرينو ستونزې هم مينځ ته راوړي. د وګړو يو زيات شمير د ښه تره او سوکاله ژوند د ترلاسه کولو په خاطر لويو ښارونو ته هجرت کوي چې وکولای شي په صنعتي فابريکو کی پر ښه معاش کاروکړی. له بلې خوا هغوی کولای شي د ژوند له آسانتياوو، لکه ترانسپورت، بريښنا د څښلو اوبو، ښوونځي، مدرسه او روغتون څخه -چې په ښارونو کې شته دی- برخمن شي.

څنګه چې په ډيرو وروسته پاتې هيوادو کې تجربه شوې ده، د خلکو هجرت ښارونو ته يو لړ ستونزې، لکه ګڼه ګوڼه، د ژوند د چاپيريال

ککړتیا او د جرمونو زیاتیدل او نور مینځ ته راوړي. نو ځکه بهتره ده چې د ښارونو تر څنګه کلی په هماغه توګه پراختیا ومومي.

د افغانستان صنعتي پراختیا د امیر شیر علیخان پیر (۱۸۶۹ - ۱۸۷۹م) ته رسیږي. لومړی ځل په افغانستان کې امیرشیر علیخان د وسلو جوړولو فابریکه جوړه کړه. وروسته د امیرعبدالرحمن خان او زوی يې امیر حبیب الله خان په پیر کې یو شمیر صنعتي فابریکې، لکه دوسلې جوړولو، بوټ ګنډلو، د سکې د ضرب، څرمنو، او نساجي فابریکې تأسیس شوې شاهي حکومتونو او وروسته د محمد داؤد خان حکومت د صنعتي سکتور د پراخولو په خاطر زیاتې هڅې وکړې، ثقیله صنایع د دولت په واک کې وې او د هیواد د صنعتي ادارو په پراختیا کې خصوصي سکتور په تنګسه کې و.

له جګړې نه دمخه د هیواد صنایع دودې په لومړي سطح کې وچې د سپکو صنایعو په چوکاټ کې يې د کرنیز سکتور مواد او د اړتیاوړ څیزونه او نور ضروري شیان تولیدول. یو شمیر لویې صنعتي فابریکې، لکه د پنبې سمنتو، کیمیاوي سرې کارخانې، د جنګلک انجنیري کارخانې او د وسپنې ورکشاپ د کابل ښار، بلخ، بغلان، او پروان، کې نوې جوړې شوې وې. اکثراً صنعتي تولیدات لکه ټوکر، لباس، بوټ، فرنیچر، سمنټ، خښتې او پلاستیکې شیان او نور داړتیاوړ جنسونه د هیواد سپکو صنایعو په واسطه تولیدیدل.

د افغانستان د صنعتي پراختیا پروسې په لومړیو کې د دولتي صنایعو د تأسیس لپاره ټینګې هڅې کیدلې چې دغه کار داخلي خصوصي

پانگه اچونې يې سوداګرۍ ته منحصرې کړې وې. د ۱۹۷۰ په لسيزه کې محمد داؤد خان د هغه وخت جمهور رئيس داسې انګيزې خلق کړې چې د دولتي صنايعو ترڅنګه شخصي صنايعو ته پراخوالى وروبخښي. په همدې خاطر د هيواد د پانګه اچوني قانون تصويب شو. خو افسوس چې د ۱۹۷۸م د ثور د ۷ کودتا نه وروسته دا قانون فسخ او ټولې شخصي صنايع، ملي اعلام شوې په ۱۹۷۸م کال کې د هيواد د ملي ناخالص توليداتو (GNP) په سلو کې ۱۷ يې صنعتي سکتور توليدول. په ۱۹۹۰م کال کې د ۳٦۰ په شاوخوا کې د سپکو صنايعو فابريکې د کابل په صنعتي پارک کې قسماً فعالې وې او څلويښت زره کارګرانو په کې کار کاوه.

او نژدې له ۲۰ تر ٦۰ صنعتي فابريکې د هرات، کندهار او مزار شريف په ښارونو کې فعالې وې.

د دوو لسيزو جګړې له امله د هيواد صنايعو درانه زيانونه وزغمل په تيره د ۱۹۹۲ کال وروسته د کابل په ښار کې اکثره دولتي او خصوصي صنايع ويجاړ، مالونه او وسايل يې چور او تالاشول. نورې صنعتي کارخانې د هيواد په ګوټ ګوټ کې له څو کلونو راپدې خوا بندې دي.

په ځينو ښارونو کې چې سپکې صنايع د جګړې د سوزنده لمبو نه خوندي پاتې دي په ډيره ټيټه سطحه په نسبي توګه فعاليت لري. د دغو صنايعو فعاليت د اړتياوړ د او موادو د کمبود، د بازار او د لازمې څارنې د نشتوالي په وجه ورځ په ورځ لا پسې محدود يږي.

لاسي صنايع يوازيني صنايع دي چې د جګړې کلونو په ترڅ کې يو څه

فعالې وي. دا سکتور په کلو او بانډو کې د کم بضاعته کورنیو لپاره اضافي عایدات برابروي.
ډیر کله ښځینه افغانانې د دغه ډول لاسي صنایعو د پرمختګ په جریان، لکه، غالۍ او بډل، تغر او بډل، ریشمه ګنډل، وریښمین کاري، خامک ګنډل او نور ستر ځای درلودلی دی. د لاسي صنایعو تولیدات غالۍ، تغر، څرمن، وړۍ او وړین شیان، بخاری، خرادی، ولډنګ کاری، د موټرو او نورو ماشین الات د بیارغاونې ورکشاپونه، د خښتو بټۍ او نور دي چې لاتراوسه فعالیت لري.

د کار بازار:

په افغانستان کې د کار ډیر ځواک په شخصي کارونو بوخت دی. هغه ستر کارونه چې خلک یې سرته رسوي ډیری په کرنیز سکتور او کورنۍ سوداګرۍ او تریو برېده بهرنی سوداګرۍ پورې اړه لري. د خلکو زیات شمیر د ننه په هیواد یا ګاونډیو هیوادو - لکه ایران او پاکستان کې په مزدورکارۍ بوخت دي د جګړې زیاتیدل او اقتصادي ورو سته پاته والی له امله په دولتي او خصوصي سکتور کې د کار موندلو زمینې بیخي زیاتې کمې شوې دي. یوازي په کندهار کې چې د ځوکالو را په دیخوا امنیت برقرار دی او سوداګري وده کړیده، د مزدورکارۍ له لارې د عاید زمینې په سلو کې ۱۵ زیاتوالی موندلی دی. تر ټولو ناوړه حالت د فیض آباد په وروسته پاتې ښار کې دی چې د تیر کال په ترڅ کې د مزدور کارۍ له لارې عاید په سلو کې ٤٨ را کښته شوی دی. د مزار شریف ښار کې چې د دې وروستیو کلونو په ترڅ کې د ویجاړوونکو

جګړو شاهدو، د مزدور کارۍ له لارې عایدات په سلو کې ۴۳ را ټیټ شوي دي. د هرات او جلال آباد په ښارونو کې وضعیت په بدلون کې و. د ساری په توګه د مزدورکارۍ له لارې عاید د ۱۹۹۸ م کال د اکتوبر او دسمبر په میاشتو کې مخ په زیاتیدو و، او د ۱۹۹۹ کال د جنوری او مارچ په میاشتو کې یې نزولي تګ لوری درلود. چې له عواملونه یې ښایی په ژمی کې د کارګر لپاره د تقاضا لږیدل وی.

په هیواد کې د کار د ځواک لپاره د غوښتنې د ورځ په ورځ کمښت برعکس، په پوځی ځواکونو کې د خلکو ګمارل د پراختیا په حالت کې وو. په دولتی شعباتو، صنایعو او نورو رسمی ادارو کی وزګارتیا په زیاتیدو کې ده. ډیر دولتی کارکوونکی چې خپل عایدیې له لاسه ورکړی په شخص کارونو: لګه ټکسی چلولو، مزدورکاري، او یا پرچون پلورلو لاس پورې کړی دی.

PROPERTY ACKU

کورنۍ او بهرنۍ سوداګري

په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د شیانو بدلول چې د یو واسطه، عامل، لکه پیسو په ذریعه سر ته رسي دغه عملیه سوداګري بولي. له سوداګرۍ څخه ګټې د موجودو مصرفي شیانو د شمیر او ډولونو زیاتول او په تولیدي هڅو کې د تخصص لازیات رواجول. پر ته له سوداګرۍ نه به هر وګړی او هیواد مجبور وي خپلې ټولې اړتیاوې له هغو سرچینونه برابرې کړي چې یې په لاس کې لري د جګړه ځپلي افغانستان په تس نس او ورشکسته اقتصاد کې سوداګري اساسي ځای لري په تیره اوس چې د هیواد د منځنۍ طبقې اکثرو خلکو په دې کار لاس پورې کړی دی.

افغانستان ټول اولیه مصرفي شیان له بهرنه واردوي. د پرله پسې جګړو او د ځینو مهمو لویو لارو له نه خلاصون سره سره په ټول هیواد کې کورنۍ سوداګري روانه ده. د سالنګ د لویې لارې بند پاتې کیدل په وروستیو کلونو کې یې د سیمه والو سوداګرو لپاره ډیرې ستونزې پیدا کړې دي. ځکه هغوی توان نه لري چې خپل کرنیز تولیدات له شمال نه کابل ته اوله دې لارې یې نورو ولایتونو ته ولیږدوي او د اړتیاوړ شان د پخوا په شان له کابل نه شمال ته یوسي. سره له دې ډول تنګسو چې کورنۍ سوداګري یې ډیره ځپلې ده. د سیمې سوداګر په راز راز ډولونو تجارتي مالونه هغو سیمو ته - چې د دښمنو ډلو په

اقتصادی محاصره کې دي- ور رسوي.

بهرنۍ سوداګري چې د کرنیزو محصولاتو صدور او د بهرنیو مالونو په هکله تل ادامه لرلې ده. طبیعي ګاز (چې پخوا به پخواني شوروی ته صادریده او اوس بنددی)، تازه او وچه میوه، غالۍ، پوستکي، د چارتراش لرګي، سابه او نور په اوسنیو شرایطو کې د هیواد له عمده صادراتو څخه شمیرل کیږي. له جګړې د مخه صادراتي مواد، لکه وړۍ، پنبه، طبیعي ګاز، میوې، غالۍ او نور تریوه بریده د مرکزي دولت په کنترول کې و. په ۱۹۹۲ م کال کې د هیواد صادرات په سلوکې ۸۵ او واردات په سلوکې ٦۹ کم شوي وو.

د هغو بهرنیو مالونو سوداګري چې د دوبۍ له لارې راځي او د پیښور او کوټې بازارونه بیا صادریږي د پراخوالي په حال کې دي. له ۱۹۹۲ تر ۱۹۹٦ کلونو پورې په ورځ کې نژدې دوه یا درې بارړونکي الوتکې تجارتي مالونه د جلال آباد هوايي ډګر کې ښکته کیدل چې وروسته په لاریو کې تورخم او له هغه ځایه د اوښ او کچر په واسطه د پیښور بازارونو ته لیږدیدل. له ۱۹۹٦ کال نه وروسته د طالبانو تحریک د غې لارې ته تریوه بریده بدلون ورکړ. همدا اوس د بهرنیو تجارتي مالونو ډیره برخه د کندهار له لارې د پاکستان په کوټه کې چمن ته لیږدیږي. په دې تجارتي مالونو کې اکثره تلویزیون، ویدیو، تیپ، د کور لوښي او نور هغه شیان دي چې د پاکستان په بازارونو کې په لوړه بیه خرڅیږي.

د یوې سروې مطابق چې د نړیوال بانک او (UNDP) په مرسته په ۱۹۹۷ کال کې ترسره شوې وه، د افغانستان او پاکستان تر منځ د

سوادگرۍ تټوله بیه ۵ . ۲ بلیونه ډالره اټکل شوي و چې ٦ . ۱ بلیونه ډالره یې هغه تجارتي مالونه جوړوي چې د افغانستان له لارې پاکستان ته قاچاق کیږي.

د پاکستان حکومت د مختلفو پړاونو په ترڅ کې د پاکستان له لارې د. ترانزیتي تجارت د آسانتیاوو محدودلو لپاره په یوا ړ خیزو اقداما تو لاس پورې کړ چې د هغو بهرني تجارتي مالونو چې په غیر قانوني ډول د پاکستان بازارونو ته رارسیږي د ورود مخنیوی وکړي. تر اوسه ۳۵ قلمه جنسونه د افغانستان د ترانزیتي تجارت له لست نه لغو شویدي. خو په عمل کې د پاکستان د دولت دا اقدام د تجارتي مالونو د قاچاق په مخنیوي کې چندان ګټور نه دی تمام شوي. په اوسنیو شرایطو کې افغانستان په وارداتو متکي دی. دوارداتي مالونو ډیره برخه خوراکي مواد، پوښاک، دواګاني، تیل او نور دي. د تجارتي مالونو په څنګ کې ماشین آلات او نظامي اړتیاوې هم وارد یږي.

تجارتي کسر له په سلو کې ٤٨ نه په کال ۱۹۷۸ کې تر په سلو کې ٧٤ ته په کال ۱۹۹۲ کې رسیدلی و. له کال ۱۹۹۲ نه وروسته دغه تشه څو وارې زیاته شویده. اصلي سبب یې د صادراتو د سطحې راټیټیدل او د بهرني صنعتي مالونو دوارداتو ورځ په ورځ زیاتوالي دی. کومې ګټې چې د بهرنۍ سوداګرۍ نه ترلاسه کیږي ډیره برخه یې د زمکو او. کورونو په رانیولو په داخل کې مصرفیږي او یا د پاکستان په بانکونو کې زیرمه کیږي. (د تولیدي هڅو لپاره د هیواد په دننه کې پانګه اچونه نه کیږي).

په وروستیو کلونو کې افغانستان له دې سوداګرۍ څخه نه جبران کیدونکي تاوانونه زغملي دي.
ټول تجارتي سرحدونه له منځنۍ آسیا سره (پرته د تورغونډۍ له بندره) تړل شوي دي. نو ځکه د افغانستان بهرنۍ سوداګري یوازې له پاکستان او یو څه هم له ترکمنستان سره صورت مومي. په اوسنیو شرایطو کې د هیواد د لومړنیو اړتیاو په سلوکې ۹۰ یې له پاکستان څخه وارد یږي.

مالي سیاست او دولتي مصارف

مالي سیاست د حکومت د پالیسي جوړولو وسیله ده چې د ملي غوښتنو د سطحې د بدلولو او د محصولاتو ترمنځ د انډول پیداکولو لپاره کارول کیږي او د مالیاتو او د دولت د بودجې د مصارفو له لارې عمل کوي. له مالي سیاست نه سمه ګټه اخیستنه عمومي زیرمو ته زیاتوالی وربخښي او د دولت خزانې ته کافي اندازه پانګه ورټولوي چې وروسته د دولتي مصارفو په ډول د خلکو جیبو ته ورځي.
څنګه چې دود وه د عامه سکتور مصارف د دولتي بودجې له لارې تمویلیده دا سکتور د مرکزي حکومت، ولایتي حکومت، ښاروالۍ ګانو، بانکونو، روغتونونو، مکتبونو، مدرسو، پوهنتونونو او د نورو دولتي تاسیساتو پر مصارفو شامليږي. په ۷۰ لسیزه کې د محمد داؤد

خان حکومت د دولتي سکتور د پیاوړي کولو او ټینګښت لپاره جدي هڅې وکړې. په درنو صنایعو، سړک جوړولو، هوایي ډګرونو، خړوبولو سیستم، د بریښنا بندونو، روغتونونو د مکتبونو دانې، او د طبیعي زیرمو په رااېستلو کې د افغانستان د جمهوري بودجې په واسطه پانګې اچولې کېدلې. ولایتي حکومتونو او ښاروالۍ ګانو د دولت د خزانې لپاره مالیې ټولولې.

د مالیې وزارت مسؤولیت درلود چې د دولت لپاره مالیه را ټوله کړي، پور واخلي، معمولي مصارف وټاکي، او د پلان وزارت په ملګرتیا انکشافي بودجه ترتیب کړي. د پراختیایي هڅو د مصارفو، د بهرنیو مرستو د تنظیم او ویش او د پراختیایي بودجې تطبیق د پلان وزارت له مسؤولیتونو څخه وې. که څه هم په اوسنیو شرایطو کې وزارتونه او مامورین شته دي خو د هغوی د دندې په زمینه کې هڅې زښتې ډېرې محدودې شوې دي.

جګړې د هیواد د مالیو دراټولولو سیستم یې سره پاشلی دی. نو څکه د هیواد په بودجه کې لویه تشه رامنځته شوې ده. له یوې خوا داخلي عایدات راکم شویدي. له بلې خوا له ۸۰ په سلو کې زیات دولتي مصارف په پوځي هڅو کې په مصرف رسیږي. له ۱۹۹۲ م کال نه را پدیخوا د اجتماعي خدمتونو د مصارفو لپاره هیڅ ډول بودجه نه ده اختصاص شوې. مالیې چې د قوماندانانو او سیمه ییزو مقاماتو له خوا را ټولیږي د هغوی په شخصي چارو یا په پوځي چارو لګول کیږي.

دبانکداری سیستم:

پخوا د هیواد د بانکدارۍ سیستم دومره وروسته پاته او محدود و چې په مشکل یې کولای شوای د معاصر بانکدارۍ نظام لومړنې مشخصات ترسره کړي چې و کولای شي اقتصادي ثبات او وده رامنځته کړي. عصري بانکونه د پورورکوونکي او پوراخیستونکي ادارو په څیر هغه مالي اړیکي راچاپیرې کړي چې له خپلو ورځنیو هڅو څخه گټه ترلاسه کوي. د تجارتي بانکونو د پیدایښت (چې د خپلو عوایدو ستره برخه د سود له لارې لاسته وروړي) سره بانکداری هڅو پراخوالی وموند. په پایله کې د پیسو اندازه هم زیاته شوه.

نن ورځی بانکونه د اقتصادي نظامونو نه بیلیدونکې برخه گڼل کیږي او ټول پولي او مالي کاروبار د هغوله لارې صورت مومي.

دافغانستان مالي سیستم د مالی، رسمي او غیر رسمي ادارو لرونکی دي چې یوله بله نژدې اړیکي سره لري. د هیواد مرکزي بانک د افغانستان بانک د پیسو دادارې، کنترول او وړاندې کولو، د هیواد بهرنی اسعارو د زیرمو برابرول، او د نورو پولي هڅو مسوولیت په غاړه لري. ټولي مالي ادارې، لکه تجارتي بانکونه، پراختیایي بانکونه او نورې مالي ادارې د بیمې د کمپنیو په شمول د دولت په کنترول کې دي. د جگړې له پیل نه پخوا د افغانستان بانک مرکزي بانک د خپلو کریدتونو پلان او د شپږ نورو بانکونو تطبیقول چې د هرکال په پیل کې د داخلي تولیداتو د جریان په بنسټ اټکل کیده او د بهرنیو تجربو په اساس برابریده. په ۹۱ - ۱۹۹۰ کال کې د مرکزي بانک پورونه

۹۰٤ بلیونو افغانیو ته د ۳۰۷ بلیونه پلان شویو افغانیو په بدل کې رسیدل.

د بانکي فعالیتونو ډیره برخه د کابل په ښارکې تمرکز درلود چې د بهرنۍ سوداګرۍ ستره برخه او نور تجارتي فعالیونه له دې ښاره تنظیم کیدل. وروسته بانکونو څو محدودې څانګې په لویو ښارونو کې پرانیستلې چې د هیواد د پولي سیستم دودې او پراختیا په لوري یونیک اقدام ګڼل کیده.

د هیواد ستر بانکونه: د افغانستان بانک (۱۹۳۹)، د کرنې د پراختیا بانک (۱۹۵۹)، ملي بانک (۱۹۳۲)، د صادراتو د پراختیا بانک (۱۹۷٦)، د صنعتي پراختیا بانک (۱۹۷۱)، رهني او تعمیراتي بانک (۱۹۵۵)، او پښتني تجارتي بانک (۱۹۵٤).

په افغانستان کې د بانکونو د پراخیدو په لارکې له سترو خنډونو نه یو پربانکونو د دولت کنترول و. د بانکدارۍ نوی قانون چې په ۱۹۷۵ کال کې تصویب شوی و په نظر کې یې لرل چې ټول بانکونه ملي او د هیواد اقتصاد ته وده ورکړي. دا اقدام د وخت حکومت ته داتوان ورکړ چې په ځینو شخصي لویو صنایعو کنترول پیدا کړي او د دولت د اوږدې مودې پروګرامونو ته پیاوړتیا ور وبخښي.

پرته د سروزرو له زیرمو (۰۰۰، ٦٦۵ اونسه) د افغانستان بانک زیرمه ٦۹، ۲٤٤ میلیون ډالرو ته په ۱۹۸۹ کال کې رسیده.

په ۱۹۷۸ کال کې د هیواد ټول بانکونه د ملي بانک په ګډون چې د هیواد تر ټولو پخوانی او تر ټولو ستر تجارتي بانک دی د کمونیستي

رژیم له خوا ملي اعلام شول. دې اقدام د افغانستان د بیوزله خلکو ژوند اغیزمن کړ. د وخت حکومت د پرله پسې فشارونو او د دا ډول ناسنجول شویو پالیسیو په اثر ډیرو داخلي پانګه والو د تیښتې لاره غوره کړه او یا یې خپلې پانګې بهرنیو بانکونو ته ولیږدولې. دا اقدام د هیواد د مالي او بهرنیو اسعارو د زیرمو د چټک کمښت سبب وګرځید.

پیسې او یې جلبه تورم:

هر هغه شی چې د تبادلې د واسطې په توګه د ټولو له خوا منل شوی وي او د ارزښت د واحد په څیر، د شیانو د بیې څرګندونکی وي پیسې نومول کیږي. له ډیرو لرغونو پیړونو را په دیخوا ډول ډول شیان لکه سپین زر او سره زر د ذاتي ارزښت او هم د دوام او په ساتلو او لیږدولو کې د آسانتیا په دلیل د پیسې ځای نیولی دی.

پولي تورم د بیو زیاتیدلو ته ویل کیږي په داسې ډول چې د ټاکلې اندازې پیسو د خرید قدرت د کموالي سبب وګرځي.

تورم له نړیوالې جګړې وروسته د اکثرو اقتصادونو یو له وتلو ځانګړتیاوو څخه دی او په همدې خاطر یې د اقتصاد پوهانو پام ځانته راړولی دی.

سرسامونکی پولي تورم چې له ۱۹۸۹ م را پدیخوا راروان دی د جګړې د کلونو په ترڅ کې د دولتي اداروو د تیت و پرک کیدلو سره یو ځای یې د افغانستان بانک د هڅو زمینې محدودې کړې دي. په پایله کې د اسعارو د تبادلې آزادو بازارونو (شخصي صرافي) په چټکۍ سره پراخوالي وموند او د هیواد د پولي تبادلاتو ډیره برخه تنظیموي. په

اوسنيو شرايطو کې د تجارتي کزيدتونو پوروونه او نور پولي فعاليتونه د دغه بازار له لارې سر ته رسيږي. دا سعارو بازارونه په کابل او نورولو-يو ښارونو، لکه هرات، کندهار، جلال آباد او مزار شريف کې د رگرده پولي خدمتونه برابروي د بهرنيو اسعارو د تبادلې په گډون د بهرنۍ سوداگرۍ لپاره هم خدمات سر ته رسوي.

په هېواد کې د اسعارو د تبادلې درې نرخونه:

(۱) بانکي بيه چې د مرکزي دولت له خوا اېښودل شوې ده.

(۲) د ملگرو ملتو بيه چې له بانکي نرخ نه لوړه او د آزاد بازار له بيې لږه وي. (۳) د آزاد بازار نرخ چې اکثراً د صرافانو پر لاس تنظيميږي.

د افغانيو د مبادلې نرخ په امريکايي ډالرو له ۹ . ۳۷ افغانۍ د يوه ډالر په بدل په ۱۹۷۹م کال کې ٦٦١ افغانۍ د يوه ډالر په بدل په ۱۹۹۰م کال کې، ۱۵۰۰۰ افغانۍ د يوه ډالر په بدل په کال ۱۹۹٦م کې او ٤۲۰۰۰ افغانۍ د يوه ډالر په بدل د کال ۱۹۹۹ په لومړيو کې بدلون موندلی دی. سره له دې چې د افغانيو نرخ په کابل او د طالبانو تر ولکې لاندې نورو ښارونو کې نسبي ثبات موندلی دی، په شمال کې د افغانيو پولي ارزښت مخ په کميدو و. همدا اوس دوه ډوله افغاني بانک نوټونه د هېواد د شمال په بازارونو کې په چلند کې دي.

(۱) هغه بانک نوټونه چې پخوا د مرکزي دولت له خوا چاپ شوي وو،

(۲) هغه بانک نوټونه چې د جنرال دوستم په رهبرۍ د شمال جنبش په واسطه چاپ شوي وو. د دوستم بانکنوټونه د لومړيو بانکنوټونو په تقريباً نيمه بيه خرڅيږي.

وروستيو کې سرته رسېدلې ده تورم د ۱۹۷۹ - ۱۹۹۶ م کلونو ترمينځ پورې فيصدو ته لوړ شوی دی. دغه د پرله پسې تورم پروسه د هيواد د زيات شمير خلکو ژوند له ګواښ سره مخامخ کړی دی. د جګړې د لومړۍ لسيزې ترڅ کې د اړتياوړ لومړنيو موادو بيې درې واره پورته ختلې وې. مګر په وروستيو کلونو کې ددې ډول شيانو نرخونه په سر-سامونکې ډول جګې شوې دي. په ۱۹۹۸ م کال کې يوې کورنۍ ۳۰۰۰ وارې زياترو عوايدو ته تر ۱۹۷۸ م کال اړتيا لرله.

ديو

کيلو اوړوبيه له ۱۰ افغانيو په ۱۹۷۸ م کال کې ۳۰۰ افغانيو ته په ۱۹۹۱ م کې، ۲۸۰۰ افغانيو ته په ۱۹۹۶ م کال کې، ۹۹۰۰ افغانيو ته د ۱۹۹۷ م کال د مې په مياشت کې، ۱۱۱۳۲ افغانيو ته د ۱۹۹۸ م کال د ډسمبر په مياشت کې زياتوالی موندلی دی. د کابل په ښار کې يو تن مزدور کارچې د کورنۍ غړي يې او وتنو ته رسيږي مجبور دی چې د خپلو د عوايدو نيمايي يوازې دوچې ډوډۍ په رانيولو ولګوي. د ښوونکيو او نور ملکي مامورينو مياشتنی عايد په هيڅ صورت د هغوی د يوې هفتې لګښتونه نه پوره کوي.
د هيواد په شمالي سيمو کې د بدخشان او باميانو د وروسته پاتو ولاياتو په ګډون د نرخونو بې کچه لوړتيا د ډيرو اقتصادي مصيبتونو سبب شوي دي. يو کيلو غنم چې د ۱۹۹۷ م کال د دمئی په مياشت په کابل کې په ۱۳۰۰۰ افغانيو خرڅيدل په مزار شريف کې د هغې بيه ۲۵۰۰۰ افغانۍ او په فيض آباد کې ۲۹۰۰۰ افغانۍ وه.

ترانسپورت او ملکي هوا نوردي

د هیواد د ریزمریز شوي اقتصاد په بیارغاونه او پراختیا کې ترانسپورت ډیره ستره ونډه لري. دا سکتور که په سمه توگه پراختیا و رمی کولی شي چې کلي پربنارونو پورې ونښلوي او د هیواد په دننه او بهرکی اقتصادي، اجتماعي او فرهنگي اړیکې مینځته راوړي. همدا ډول یو عصري ترانسپورتي سیستم د صنعت په پراختیا ار د خلکو د ژوند د سطحې په ښه والي کې غټ ځای لري.

په هیواد کې د وسپنې پټلۍ نشته. نو ځکه ټول ترانسپورتي فعالیتونه د لاریو موټرو په واسطه سرته رسیږي چې ښایي له بیخي ورانو شویو لویو لارو ځخه تېرېږي. په هېواد کې نژدې ۱۷۰۰۰ کیلو متره خام او پوخ سړک شته دی چې له هغې جملې ځخه ۲۶۵۰ کیلو متره یې عمده لویې لارې جوړوي. دا لویې لارې اکثر ولایتونه په کابل پورې تړي او افغانستان له گاونډیو هیوادو سره (پاکستان د تورخم او سپین بولدک له لارې ایران او ترکمنستان د اسلام کلا او تورغنډۍ له لارې، ازبکستان او تاجکستان د حیرتان بندر له لارې او شیرخان بندر له لارې) نښلوي.

البته په وروستیو کلو کې داندخوی له آقینه بندر، د تخارله ای خانم او د بدخشان له اشکاشم نه په ډیر سطحي او محدود ډول هغه هم اکثراً د پوځي انتقالاتو په منظور گټه اخیستله کیږي. د جهاد په کلونو کې د

شاه سلیم لاره چې د بدخشان ولایت د پاکستان په چترال پوري نښلوي جوړه شوه دا لاره چې دي دوو کالو راهیسې د موټرو په مخ تړلې ده یوازې د درې میاشتو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي. د هیواد ډیر ولایتونه او ولسوالۍ د خامه او صعب العبور ولارو په واسطه د ښارونو له مرکزونو سره تړل شوي دي چې اغلباً د موسمي بارانونو او ویجاړوونکو سیلابونو په اثر بندیږي.

لومړي او دوهمو پنځه کلنو پلانونو (۱۹۵۵ تر ۱۹۶۷) د عمده لویو لارو په جوړولو ټینګار درلود. د سالنګ لویه لاره او تونل په ۱۹۶۰ لسیزه کې د پخوانی شوروی په مرستو جوړ شول.

د کابل- کندهار لویه لاره چې اوږدوالی یې ٤۸۳ کیلو مترو ته رسیده د امریکا (USAID) په مرستو جوړه شوې وه.

د هرات- تورغنډۍ او کابل تورخم لویې لارې هم د خارجي هیوادو په مرستو جوړې شوې وې. دورانوونکو جګړو او په دوو وروستیو لسیزو کې د پوځي فعالیتونو په اثر د هیواد ډیرې لویې لارې او عمده سرکونه تخریب شویدي.

له بلې خوا د سمي ښارنې نشتوالي، بې کچه ګټه اخیستل او د سرکونو له تر میمولو سترګې پټول د هغو په ورانولو کې یې زیاتوالی راوړی دی. همدا ډول په لویو لارو کې د مختلفو ډلو د تلاشۍ د پاټکونو موجودیت د تجارتي مالونو لیږدول یې د هیواد نورو سیمو ته مشکل کړي دي.

په کلیو کې آس، خر او کچر د ترانسپورتي عمده وسایلو څخه ګڼل

کیږي. د خامه او پلیو لارو وضعیت د وروستیو کلونو په ترڅ کې وخیمې شوې دی. څرنګه چې د مواصلاتی لارو د بیارغاونی لپاره دولتی پلانګذاري نشته. د ملګرو ملتونو مؤسسات او بهرنی او داخلی غیر دولتی سازمانونو د سرکونو، پلونو او پلچکونو په ترمیم چې د هیواد په ځینو سیمو کې ډیر شدید ضرورت موجود و لاس پورې کړی دی.

دوه نړیوال هوایی ډګرونه د کابل او کندهار په ښارونو کې شته دی. د محلی هوایی ډګرونو شمیر دیرشو ته رسیږی چې احتمال لری یو میدان په هر ولایت کې موجودوي.

د کابل، شینډنډ او هرات هوایي ډګرونو د جګړو په اثر شدیدې صدمې لیدلې دي. له جګړی نه دمخه دوه د هوایی چلند سترو شرکتونو د آریانا او باختر الوتنی په نومونو د هیواد په دننه او بهر د خلکو د مالونو په لیږدولو بوخت وو. په کال ۱۹۸۵م کې دا دوه شرکتونه یو ځای شول.

د رسمی احصائیو مطابق د کابل هوایي ډګر په ۱۹۹۰ کال کې ۱۹۶۰۰۰ تنه مسافرو او ۱۸۰۰۰ ټنه محمولو ته رسیده ګی کوله.

د ۱۹۹۰م لسیزی په لومړیو کې خیبر ایرلاین (Khaiber Airline) د ننګرهار والی حاجی عبدالقدیر په واسطه جلال آباد او بلخ ایر (Bulkh Air) د جنرال دوستم په واسطه د مزار شریف په ښارکی جوړ شوی وُ چې د طالبانو په لاس د جلال آباد او مزار شریف د نیول کیدونه پس دواړه سقوط وکړ.

همدا اوس د آریانا شرکت الوتکې د کابل ښار، جلال آباد او کندهار نه الوزي بهرنی تجارتی مالونه له دوبۍ او د منځنی ختیځ له هیوادونه دننه هیواد ته رالیږدوي چې بیا وروسته د پاکستان بازارونو ته قاچاق کیږي. د آریانا شرکت داخلي پروازونه یې د طالبانو ترولکی لاندې ښارونو ته هم پیل کړي دي. په تأسف چې د هیواد پستی نظام بیخی له مینځه تللی دی او د هیواد ددغې اجتماعی خدمتونو برخې د بیارغاونې لپاره سولی او د یو قوی مرکزی حکومت جوړیدو ته اړتیاده.

مواصلات او اطلاعات:

جګړې د هیواد اقتصاد دغې عمده برخې ته هم سخت زیان رسولی دی. سیمه وال مقامات، مرستندوی سازمانونه، لکه ملګری ملتونه او غیر دولتی مؤسسات له بی سیم او مخابرې څخه ګټه اخلی. په ۱۹۷۹ م کال د ۲۳۶۸۰ شمیره تیلفونونه د هیواد په دننه کې د استفادې لپاره موجود و.

په ۱۹۸۶ م کال کې رادیو یی آخذې ۵، ۱ میلیونه او تلویزیونی ۱۱۵۰۰۰ اټکل شوی و. د هیواد په ځینو سیمو کې مقامات او مؤسسی د ستلایټ تیلفون (د مصنوعی سپوږمیو والا) څخه له هیواده بهر سره ارتباط نیسی. د هیواد رادیو تلویزیون مرکز د کابل پر ښار په راکټ ورولو کې ویجاړ شو. په اوسنیو شرایطو کې د شریعت رادیو چې مخکې د کابل رادیو په نامه یادېدله او یو شمیر واړه رادیو یی مرکزونه د مختلفو ډلو په واسطه خبرونه او اطلاعات خپروي. دا رادیوګانې

اکثراً د اړوندو مقاماتو پیغامونه او تبلیغات نشرته سپاری. په وروستیو کلونو کې د ملګرو ملتونو مؤسسې د یونیسیف او ماین پاکونی برخی یونو چاپه ګډون د بی بی سی راډیو د «نوی کور، نوی ژوند» په نامه تعلیمی پروګرام لپاره چې په پښتو او دري ژبو خپریږي لازمې مرستې برابروي. دا پروګرامونه د ماین، لومړنی روغتیا، ښوونې او روزنې د پوهولو په هکله ښوونیز پیغامونه خپروي چې د خلکو دا جتماعی پوهې سطحه وده وکړي. یو شمیر جریدې او مجلې د مختلفو ډلوله خوا خپریږي چې داړوندو ډلو د عقیدو او آرمانونو بیا - نوونکي دی.

کور جوړول:

د ملګرو ملتونو د پراختیایی پروګرام دفتر (UNDP) د اټکل سره سم تر کال ۱۹۹۳ تقریباً ۳ . ۲ میلیونه داستوګنی کورونه په افغانستان کې موجود وو چې د هغو نیم میلیون یې بیا جوړولو ته اړتیالرله.
د مدهشو او خونړیو جګړو په اثر چې د ۱۹۹٤ تر ۱۹۹٦ کلونو په ترځ کې د کابل په کوڅوکی پینځ شول د ملکی او شخصی ودانیو نژدې ۸۰ په سلو کې ړنګې شوې. د کابل د بیوزلو خلکو لپاره یې د سر پناه ستونزه لاستره کړینده. د ۱۹۹٦م په دسمبر کې کومه اقتصادی، اجتماعی سروی چې د ناروې هیواد د بیوزلی پر ضد د مبارزی مؤسسه (ACF) او د کلیسا د مرستو مؤسسی له خوا ترسره شوی و، څرګندوي چې د ۲۰٤ , ۱۱ کورنیو له جملې له ۵۳ تر ٦۳۵ کورنیو پورې په کورونو کې په شریکه ژوند درلود او له هغو په سلکو کې ۷٤ کرایه

نشین وو. په منځنۍ توګه یوې کورنۍ کولای شول له یوه یا دوو خونو څخه استفاده وکړي.

په نورو ولایتونو کې دولتي او شخصي ودانۍ د ویجاړیدو او زړیدو په درشل کې دي. سختو بمباریو او د ړندو راکټونو ورولو د جګړې په دوولسیزو کې د لرې پرتو کلیو او ښارونو د ورانۍ باعث ګرځېدلي دي.

په کندهار کې د حیرانوونکي ورانیو، او د زمکنیو ماینونو د شته والي باوجود د نفوسو شمیر یې درې چنده زیات شوی دی. برسیره پردې نژدې ۷۵۰۰۰ مهاجر له سرحدنه پورې غاړه دې ولایت ته د بیرته ستنیدو په انتظار کې دي. د مزار شریف په ښار کې د کلیو نه ښار ته د مهاجرو بهیر د جګړې په کلونو کې زښتې ډیرې ستونزې رامینځته کړې وې. دا ښار د ۴۰۰۰۰ تنو له پاره پلان شوی و.

د استوګنې کورونو بیرته جوړول د ډیرو افغاني کورنیو د سختو اندیښنو سبب شوی دی. د او مومو ادو بیه او دودانۍ جوړولو مصارف دومره لوړ ختلي دي چې د افغانستان د بیوزله او جګړې ځپلیو کورنیو له واکه بهر دي. د مخه د کابل ښار له پاره ماستر پلان دا پارتمانونو په جوړولو تینګار درلود چې نه یې شوای کولای اوسنۍ غوښتنې ترسره کړي. په وروستیو کلو کې خصوصي سکتور، په تیره د متنفذو اشخاصو او افرادو یو شمیر کورونه یې د دولتي ماستر پلان ته له پام کولو پرته ودان کړیدي. ډیر اپارتمانونه، لکه میکروریونونه د کابل د جګړو له امله کنډواله شویدي.

په ښارونو کې د سر پناه جوړول عمده ستونزه ګڼل کیږي.

ځکه له یوی خوا هغه مهاجرین چې په ښاري ژوند روږدي شوي دي ښارونو ته راستانه کیږي او له بلې خوا د ترانسپورتی، ښوونیزو روغتیا یي لومړنی خدمتونو، کارلټون او نورو آسانتیاوو نشتوالی له کلیونه ښارونو ته د هجرت سبب گرځی. له ځو کلونو راهیسې ملگری ملتونه او نور غیر دولتی مؤسسات د کابل، هرات، جلال آباد او کندهار ښارونو کې بیوزلو خلکو ته د هغوی داستوگنی کورونو په بیرته جوړولو کې مرسته رسوي. مگر دغه ستونزه تر هغو چې یو سهی او دقیق پلان هغه هم د حکومت له پلوه طرح او عملی نه شی ددې ډول پراگنده مرستو له لارې به حل نشی.

بیوزلی او سیمه ییزې نانډولی:

د فقر (بیوزلی) کلمه مطلق او نسبی مفهوم لري. د بیوزلی مطلق مفهوم د ژوندون دادامې لپاره د شخص د حداقل عوایدو د سطحی بیان ته ویل کیږي او له یو شمیر عواملو، لکه د ژوند ادامې لپاره د خوراکي مصارفو حداقل او له ارزانو لارو هغې ته د رسیدلو څخه خبرې کوي. د فقر نسبی مفهوم د شخص اقتصادی وضعیت د اړوندې ټولنې د نورو افرادو سره څرگندوي. د بیلگې په ډول د کابل په ښار کې که د یوه سړي عواید د هغه د لومړ نیو اړتیاوو له حداقل څخه زیات وي مگر د کابل د نورو ښاریانو په پرتله د ټولو نه په ټیټه سطح کې ځای ولري نو دغه شخص ته فقیر (بیوزلی) ویل کیږي. په افغانستان کې د خلکو اکثریت د مخ پرودې گاونډیو هیوادو دوگړو په پرتله فقیر ښکاره کیږي.

په افغانستان کې د بیوزلۍ او لاس تنګۍ د اندازې تشریح چې د بحران په حال کې دی. که څه هم مشکل کاری دی لاکن د بشري پروژو او پروګرامونو د پلانګذارۍ د طرحی په خاطر چې د زیاتو شوو خلکو عاجلې اړتیاوې څرګندې کړي ګټور به وي.

په افغانستان کې د فقر او لاس تنګۍ ستر علت په ابتدایي کرنه اتکا ده. د نفوسو د پرله پسې زیاتیدو او د هیواد له بهرنه د مهاجرینو د بیرته ستنیدو سره د زمکی مالکیت ورځ تر ورځې لاوړو کی کیږي په داسی حال کې چې د زراعتی زمکې نوعیت، خړوبولو سیستم، څړځایونه او نور د کرنې وسایل مخ په کمیدو دي. څنګه چې مخکې وویل شول د خلکو په سلوکی ۸۰ خپل د ژوند اړتیاوې له کرنیز سکتور څخه ترلاسه کوي. د خلکو د ژوندانه د سطحی ښیګنه او پراخول، په تیره د ښځو او ماشومانو د کورنیو د عوایدو په ودې، غذایي تامین او روغتیایي لومړیو خدمتونو پورې تړاو لري. د خلکو د عوایدو د سطحی پرله پسی کمښت د ژوند د معیار دراټیټیدو سبب ګرځی چې د اکثرو خلکو پیاوړتیا د هغو د لومړنیو اړتیاوو د پیدا کولو او برابرولو کې محدودوي.

د یو قوی حکومت په نشتوالی کې چې وکولای شی د قیق ارقام راغونډ کړي د فقر معیار ټاکل او لیکه کښل زښت ډیر مشکل دي.

د جګړې له پیل نه د مخه په سلوکی له ۲۰ تر ۴۰ خلکو د فقرله لیکی هم کښته ځای درلود. له بده مرغه نن د خلکو اکثریت فقیر او تنګ لاسي دي. د ادارو او اقتصادی او اجتماعی بنسټونو له سقوط سره، د

محلي حکومتونو ظرفیت د اجتماعي خدمتونو پیاوړتیا لپاره له مینځه تللی دی.

جګړې ډېرې ورانۍ رازیږولي دي، د کونډو او معیوبینو په شمیر کې یې زیاتوالی راوړی دی او ډیر مهاجرتونه او بیځایه کیدنې یې مینځته راوړې او د خورا کې موادو د کمښت د ستونزو سبب ګرځیدلی دی.

ویل کیږي چې د ۱۹۹۶ کال په ژمي کې د کابل په ښار کې خلکو خپل اولادونه په جوماتو کې پریښودل چې څوک پیدا شي او د هغو مسؤلیت په غاړه واخلي او په دې ډول د لوږې له لاسه د مړینې له خطر څخه وژغورل شي. دولتي مامورین په میاشتو میاشتو معاش نه اخلي او لویه تشه د ملکي مامورینو د عوایدو او مصارفو ترمینځ پیدا شوې ده.

کومه سروې چې په کال ۱۹۹۷ کې د ملګرو ملتونو د مؤسسو او ملکي مامورینو په واسطه ترسره شوه، د عادي مامور میاشتنی معاش ۱۵ ډالره او د هغه میاشتني مصارف ۳۷ ډالره اټکل کړیدي. همدا علت دی چې د کابل په ښار کې ډیرو کورنیو د خپل کور د مالونو په خرڅولو لاس پورې کړ او دهغو لږ شمیر په هغو مرستو چې له بهرنه یې د خپلوانو له لارې لاسته وروړي شپې سبا کوي.

اقتصادي وضعیت له یوې سیمې تر بلې او حتی له یوې ولسوالۍ تر بلې په هماغه یوه ولایت کې ډیر توپیر پیدا کوي. په ختیځ او سهیل کې د خارجي مالونو تجارت او قاچاق پاکستان ته لاپسې پراخ شوی دی او دا کار تر یو ځایه په دې سیمو کې د اقتصادي وضعې د ښېګنې سبب ګرځیدلی دی. په هرات کې له پاکستان سره تجارتي اړیکي وروسته له

هغې چې دا ښار د طالبانو په ولکه کې راغی - مخ په زیاتیدو وې.
هرات له ایران او ترکمنستان سره ګډې پولې لري. د بدخشان لرې پروت ولایت یوازې د تخار له لارې د هیواد له نورو سیمو سره تړاو لري او د درې میاشتو لپاره د پاکستان له چترال سره د سوداګرۍ اړیکې لري چې په وروستیو کلونو کې د آس او خره په واسطه سرته رسیدې.
د بامیانو وروسته پاتې ولایت او د هزاره جاتو لرې پرتې سیمې د تیرو کلونو جګړو په اثر سختې زیانمنې شویدي. بامیان تر یو کال زیاته موده په اقتصادي محاصره کې و دا محاصره د طالبانو په لاس د بامیانو له نیولو نه وروسته پای ته ورسیده.
فقر او تنګ لاسی د بدخشان او بامیانو په وروسته پاته ولایتونو کې مخ په زیاتیدو دي. د خلکو اکثریت د خپل ژوند اړتیاوې د کرنې له لارې لاس ته راوړلی چې د هوا په ښه والي، د باران په اندازې او د زراعتی وسایلو په شته والی تکیه لري. د بدخشان په ځینو ولسوالیو کې د ډوډۍ په ځای له وچو توتانو ګټه اخیستل کیږي. په وروسته پاته کلیو کې د پسرلی په موسم له غرنیو سبو نه استفاده کیږي.

د خوراکي موادو شته والی

د هیواد کرنه هر کال د موسم د ناوړتیا ، طبیعي آفتونو او پرله پسی جګړو او د هغو د اغیزو په اثر ډیر زیانونه زغمي. د میلیونونو ځمکنیو ماینونو شته والی، د نفوس زیاتیدنه، د زراعتي ځمکو د مالکیت راکمیدنه، او د خړوبولو سرچینو د ورځ په ورځ او نور زراعتي وسایلو کمښت په هیواد کې د خوراکي موادو د لږوالي سبب کیږي.

افغانستان یو غرنی هیواد دی چې د هغې په توپوګرافي بدلونونو د هوا وضعیت بدلون مومي چې د هیواد په زراعتي سیستم کې د پرله پسی بدلونونو او اوښتنو باعث ګرځي، د هېواد د خوراکي وضعیت څیړنه چې د ملګرو ملتونو د مؤسسو، لکه د نړۍ غذایي پروګرام، یونیسیف، د نړۍ روغتیایي سازمان او یونوچا په واسطه د ۱۹۹۷ م کال د مې په میاشت کې وشوه د افغانستان د اړتیاوړ خوراکي مواد یې ۱. ۳ میلیون ټنه اټکل کړي دي. د نوموړې څیړنې سره سم د غذایي موادو کمبود ۳ . ۱ میلیون ټنه په کال ۸۷-۱۹۹٤ کی اټکل شویدی.

د واردو شو یو خوراکي موادو اندازه په ۱۹۹٦ م کال او ۱۹۹۷ م کال کی ۸۳۰۰۰۰ ټنو ته رسیده. دا رقم د ٦۸۰۰۰۰ ټنو په حجم د خوراکي موادو یوه تشه په ۱۹۹٦ م کال کې راښیي. د دې رقم مطابق هر افغاني وګړی نشي کولای چې د ورځي له ۵۰۰ ګرامو زیات مواد مصرف کړي. د ۱۹۹۷ م کال په سپتامبر کې د ښاغلي نواز شریف

دولت د طالبانو له حکومت سره یو تړون تصویب کړ چې د هغه مطابق افغانستان کولای شوی تر ۶۰۰۰۰ ټنه غنم د پاکستان د بازارونو له نرخ څخه په لږ لوړه بیه له پاکستان نه وارد کړي.

د هیواد ځینی سیمې په تیروژمیو کې د خوراکی موادو له سخت کمښت سره مخامخ شوېدي. په ۹۶-۱۹۹۵ کلونو کې په کابل کې وضعیت تر هغو څوچنده لا زیات وخیم و. په شمال کې لرې پرتې سیمی او د هیواد مرکزی برخی د ډول ډول ناروغیو چې د کرنې حاصلاتو ته تاوان رسوی، او ویجاړونکو سیلابونو له پلوه نه رغیدونکی زیانونه لیدلي دي، په دې سیمو کې دغذایی موادو د کمبود باعث گرځیدلي دي. د افغانستان په شمال کې د جگړې له اوږدیدو سره د کرنی د پراختیا زمینه له مینځه تللې او د کرنی محصولات ورځ په ورځ مخ په کمښت دي. که څه هم د هیواد په بازارونو کې په کافی اندازه خوراکي مواد شته دي خو عام خلک بې د خرید قدرت نه لري ځکه د هغوی عایداتی سرچینی یا بیخی له مینځه تللې او یایې په مراتبو کموالی موندلی دي.

پخوا دولتی مامورینو له دولتی کوپونونو استفاده کوله. دې مرستې هغوی د زیاتیدونکی تورم په مقابل کې ژغورل. همدا ډول دولت به نانوایی گانو ته د سونگ مواد او اوړه په راټیټه بیه برابرول او د هغو په بدله کې د ډوډۍ بیه یې په مناسب حد کې ټاکله. د ۱۹۹۲ م کال نه وروسته کوپون نور خپل ارزښت له لاسه ورکړی و، ځکه نه مرکزي حکومت او نه ولایتی حکومتونو کولای شول چې خوراکی مواد څنگه

چې په کوپون کې تاکل شوي وو برابر کړي اوويشي. همدا اوس ډېرو نانوايانو سره د کابل او جلال آباد په ښارونو کې د (WFP) او نورو غير دولتي مؤسسو له خوا مرستې کيږي چې وچه ډوډۍ د بيې په تخفيف سره په زرګونو بيوزلو خلکو خرڅې کړي.

په اوسينو شرايطو کې يو شمير خيريه مؤسسې په پام کې لري چې له زيان رسيدونکو خلکو سره مرستې وکړي. د نړيوال غذايي سازمان (WFP) خيريه مرستو يو نيم ميليون (۲۰۰۰۰ تنه په کابل کې ۱۱۰۰۰۰ تنه په کندهار، ۱۹۰۰۰۰ تنه په جلال آباد ۲۳۱۰۰۰ په مزار شريف کې البته مخکې د ۱۹۹۷ کال له جګړو) اړو انسانانو سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې مرستې کولې.

بې شکه چې دا ډول خيريه مرستې په داسې حال کې چې خلک د لنډې مودې په ترڅ کې د قحطې له خطر څخه ژغوري، خو د اوږدې مودې د پاره ډېرې نيمګړتياوې رامنځته کوي. ځکه له يوې خوا خلک په مفت خورۍ روږدي کوي او له بلې خوا لتۍ او ناغېړۍ راپيدا کوي او د کرنې په سکتور کې د داخلي توليداتو د کمښت سبب کيږي.

د بين المللي ټولنو بشرى او پراختيايي مرستې:

په اتيايمه لسيزه کې د مجاهدينو او روسي عسکرو ترمينځ د سختو جګړو باوجود، افغانستان له بهرنيو سرچينو څخه ډېرې مرستې ترلاسه کولې. په دې وخت کې پخوانی شوروي او متحدينو يې بلاعوضه مرستې د کابل حکومت په واک کې ورکولې. مخالف ځواکونه هم د امريکا، اروپا او غربي هيوادو له سخاوتمندانه مرستو

مستفید کیدل.

د ملګرو ملتو د پراختیایي پروګرام (UNDP) د ګزارش مطابق په ۱۹۸۹ م کال کې افغانستان ته د بهرنیو مرستو اندازه ۵ . ۱۵۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده. له ۱۹۹۲ م کال وروسته دوه اړخیزو مرستو افغانستان ته په حیرانوونکي ډول کموالی موندلی دی. بنایي اصلي علت یې د دولت د اساسي بنسټونو سقوط او له افغانستان څخه د بین المللی مالي ادارو وتل وي. بین المللی مالي اداري: نړیوال بانک، د پیسو بین المللی صندوق او نور بهرني پراختیا یي بانکونه دي.

د څو وروستیو کلونو په ترڅ کې د دوه اړخیزو یا څو اړخیزو سرچینو له لارې افغانستان ته هیڅ ډول پور نه دی ورکړ شوی.

له یادو شویو ستونزو سره سره د بشري فعالیتونو او بیا رغاونی لپاره بهرنۍ مرستې د ملګرو ملتو د موسساتو او نورو غیر دولتی موسساتو له لارې د ۱۹۸۹ او ۱۹۹۲ م کلونو په ترڅ کې په چټکۍ سره د زیاتیدو په حال کې وې. ځکه په دې وخت کې د سولې لړی لیدا او د ملي پخلاینې پیدا کیدل لاروښانه ښکاریدل په ۱۹۸۸ م کال کې افغانستان ته د چټکو بشری مرستو صندوق جوړ شو چې د ملګر ملتونو د بشری مرستو د هماهنګۍ دفتر په لاس اداره کیده. له ۱۹۸۸ تر ۱۹۹۲ م کال ۲۲۱ میلیونو ډالرو په حدود کې د دې صندق ته د مرسته کوونکو هیوادو له خوا برابر کړی شوی و. له ۱۹۹۲ م کال راپدیخوا د بشری مرستو او د بیارغاونی ورو فعالیتونو لپاره جمعي غوښتنو وکړای شول چې ۴۷۳

میلیونه ډالره د افغانستان لپاره راټولې کړي.

علاوه پر هغو مرستو چې د جمعي غوښتنو له لارې برابرېږي د ملګرو ملتونو مؤسسات له خپلو اصلي بودجو (چې د هر هیواد ونډه پکی ښکاره ده) څخه هم کار اخیستی دی. په ۱۹۹٦ او ۱۹۹۷ کلونو کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) د ۲۷۰۰۰۰ متریک ټنو په اندازه د عاجلو مرستو او پراختیایي فعالیتونو لپاره خوراکي مواد په افغانستان کې مصرف کړیدي. په درې وروستیو کلونو کې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) د فقر ور کولو او د افغانانو ځواکمن کولو پروژو له لارې ۳۳ میلیون ډالره د هیواد په ۲۳ ولسوالیو کې مصرف کړیدي. نړیوالو غیر دولتي مؤسسو هم په وروستیو کلونو کې د بشري او بیارغاونې پروګرامونو لپاره د افغانستان په مختلفو سیمو کې ډیرې منابع په مصرف رسولې دي. بې له شکه چې دغو بهرنیو مرستو د افغانستان د ریز مریز شوی اقتصاد په پیاوړتیا او د زیانمنو خلکو په ساتنه کې ستره ونډه درلودلې ده.

روغتیا:

له جګړې دمخه روغتیایي خدمتونو په افغانستان کې هومره پراختیا نه وه موندلې چې وکولای شي د خلکو روغتیایي لومړنۍ اړتیاوې په تیره بیا په اطراف او باندو کې ترسره کړي. په ۱۹۸۲م کال کې ٦۸ روغتونونه، ٤۸۳۸ بستره او ۱۱٦۰ تنه ډاکتران په افغانستان کې موجود وو. په کال ۱۹۹۲م کې د ماشومانو د مړینې اندازه په سلوکې ۱٦.۳ اټکل شوې وه ښایي د ارقم په وروستیو کلونو کې زیات شوی

وی، په هیواد کې منځنی عمر ٤٣ کاله اټکل شوی دی. په سلوکی تقریباً ٦٥ تر ٧٥ خلک په لویو ښارونو او له ۲۰ تر ۲۵ خلک په اطراف او بانډو کې له روغتیایی لومړنیو خدمتونو بې برخې دي.

په سلوکی تقریباً ٤٠ خلک په ښارونو او په سلوکی ١٩ په اطراف کې د څښلو پاکې اوبه نه لري. له بلې خوا دغې ویجاړونکې جګړې په زرګونو معیوبین او معلولین یې د افغانستان د وروسته پاتې ټولنې د اوږو بار ګرځولي دي.

همدا اوس د هیواد روغتونونه او صحي کلینیکونه په ډېر ابتدایي ډول د ملګرو ملتو او نورو غیر دولتي مؤسسو په مرسته فعالیت لري ملګري ملتونه او غیر دولتي مؤسسې د اړتیاوړ یوه اندازه درمل په ولسوالیو کې روغیتایي کلینیکونو ته برابروي چې په هیڅصورت د هغوی عاجلي اړتیاوي نشي پوره کولای. په ډېرو سیمو کې ساري ناروغۍ او نورې عامې ناروغتیاوې، لکه نس ناستې، ملاریا، د تنفسي جهاز انتانات او نور د مړینې د عمده عواملو څخه ګڼل کېږي.

ډېرو متخصصو ډاکټرانو او د روغتیایي برخې کارکوونکې د ناوړه شرایطو له امله له بدې ورځې له هیواده وتلي چې دا کار په روغتیایي برخه کې د متخصصینو د کمښت (په تیره نسایي- ولادي برخه کې) سبب شوی دی.

په ماشومانو کې سؤتغذي او له اوبو څخه راټوکیدلې ناروغۍ د هیواد په ځینو برخو کې د زیاتو ستونزو علت جوړوي. د هیواد په کلیو او بانډو کې د امیندوارو ښځو ډېره برخه د لنګون په وخت کې خپل ژوند له

لاسه ورکوي. اکثراً زړې بوډۍ چې روغتیایي ابتدایي ښوونې هم نه لري د لنگون ځار نه کوي.

ښوونه او روزنه:

په بشري سرچینو کې ښوونه بهترینه پانگه اچونه گڼله کیږي. ځکه له دې لارې د اړتیا وړ متخصصین ټولنې ته وړاندې کیږي. له بله پلوه ښوونه او عواید د مزد په سطح او یا د ټولنې په سطح یو تر بله گډه اړیکه لري. د جگړې نه دمخه ښوونیزې ادارې د دولت له خوا تقویه کیدلې. اوس دولتي او سیمه ییز مقامات د هیواد د اجتماعي چارو د دې حیاتي برخې د تمویل ځواک نه لري.

د سواد اندازه ۲۹ په سلو کې د نارینه لپاره او ۱۶ په سلو کې د ښځینه وو لپاره اټکل شوې ده. په ۱۹۹٤ کال کې تقریباً ٤٥ په سلو کې هلکانو او ۱۷ په سلو کې نجونو په مکتبونو کې نومونه ثبت کړي وو.

اوس د نجونو د مکتبونو ډیره برخه د طالبانو ترولکې لاندې سیمو کې تړلې ده. یوازې د بدخشان په ولایت او د شمال اتحاد ترولکې لاندې سیمو کې د نجونو مکتبونه پرانیستي دي.

د جگړې په ترڅ کې تقریباً ۲۰۰۰ مکتبونه وران شویدي. د دې مکتبونو زیاته برخه د مرستو کوونکو مؤسسو له خوا بیارغول شوي دي د هغه گزارش مطابق چې د نړیوال بانک ترڅارنې لاندې برابر شوی دی په ۱۹۹٦ کال کې تقریباً ۶۰۰ تر ٦٥٠ د ابتدایي دورې مکتبونه اولیسې فعالې وې. د ابتدایي دورې د زده کوونکو شمیره د جگړې له پیل نه مخکې ۰۰۰، ۸۳ زده کوونکو ته رسیده چې دا رقم تر ۱۹۹۷

کال پوری ۲۷۰۰۰ زده کوونکو ته راکم شوی دی. تر کال ۱۹۹۱ شپږ پوهنتونو نه او د لوړو زده کړو مرکزونهٔ لکه، د کابل پوهنتون، د پولیتخنیک انستیتوت، دطب انستیتوت، د ښوونکی روزنې انستیتوت او اسلامی پوهنتون په کابل کې او د هرات، جلال آباد او مزار شریف پوهنتونونه د محصلانو په مخ خلاص وو. د ۱۷۰۰۰ په شمیر د هلکانو او نجونو په ګډون شاګردان دلوړو زد کړو په دغو مرکزونو کې نومونه ثبت کړي وو. همدا اوس د دغو علمی مرکزونو دروازې د نجونو پرمخ تړلی دی. په اوسنیو شرایطو کې یوازې دوه د ښوونکو د روزنی انستیتو نه د ښځینه وو پرمخ د بدخشان په ولایت کې فعال دي چې د درسی موادو او مسلکی پرسونل له ستونزو سره مخامخ دي. د ښوونکو د معاش کموالی، د درسی موادو قلت، او د هیواد په سطح د تعلیمی نصاب نشتوالی د دولتی تعلیمی ادارو له عمده ستونزو څخه ګڼل کیږي. د ملګرو ملتونو مؤسسې او یو شمیر غیر دولتی مؤسسی د هیواد مکتبونو ته محدودې مرستې وررسوي چې په هیڅ ډول د دې مکتبونو لومړنی اړتیاوې نشی پوره کولای.

PROPERTY OF ACKU
PROPERTY OF ARIC Established 1989

د استفادې وړ منابع

۱- عبدالحق امیری- د ماسترۍ رساله- د افغانستان د اقتصاد لرې لید د روسانو له اشغاله وروسته او وسله وال جهاد ۱۹۹۳ د رایت پوهنتون- د یتون ښار د امریکا متحده ایالتونه.

۲- عبدالحق امیری- د افغانستان د اقتصادی اوضاع تحلیل او د هغه رول د ښځو او ماشومانو په ژوند ۱۹۹۷ (د یونیسیف د درې کلن رپوټ د یوې برخې په توګه چې د هغوی په غوښتنه په پیښور کې برابره شوې وه).

۳- د افغانستان د جمهوری حکومت ګزارش - فبروری ۱۹۹۲ - د پلان وزارت - کابل افغانستان.

٤- د ملګرو ملتو د خوراک او کرنې دفتر (FAO) زراعتی ستراتیژی ۱۹۹۷ کال.

٥- د ملګرو ملتو د مخدره موادو د کنترول دفتر (UNDCP) د تریاکو د کرکلنی سروې. ۱۹۹۸ کال.

٦- عبدالحق امیری- افغانستان د یوبی حدو حصره تورم په درشل کې ۱۹۹٦.

۷- د بشری پراختیا ر ګزارش (UNDP) ۱۹۹٦.

۸- ستیف رودز - نړۍ د اقتصاد پوهانو په نظر کې - ۱۹۸٥.

۹- مکیش کپیلا - افغانستان ته د برتانیې د مرستو څیړنه - کال ۱۹۹٥.

دلیکوال لنډه پېژندنه:

*نوم او تخلص : عبدالحق امیری

*د زوکړې کال : ۱۳٤٤ هـ . ش بهارک، بدخشان.

*زده کړې: لومړنی او منځنی د بدخشان د بهارک ولسوالۍ ثانوي دوره د فیض آباد ښار، پامیر لیسه.

- لیسانس - د نړیوال اقتصاد پوهنځی - د اسلام آباد اسلامي نړیوال پوهنتون.

- MSC (په اسلامي او پراختیایي اقتصاد کې) د نړیوال اقتصاد پوهنځی.

- MS (په عملي او اجتماعي اقتصاد کې) د رایت پوهنتون، دیتون ښار، د امریکا متحده ایالات.

وظیفه : - د پلان او پلټنې په څانګه کې د پلټنی مشاور د پیښور تعلیمي مرکز - پاکستان.

- د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د بشري مرستو د انسجام دفتر د پروګرام مدیر، اسلام آباد - پاکستان

ARIC
B
5.0
AMI
8136
cp-1

Download from: aghalibrary.com



د اریک گرځنده کتابتون

ځواکمن

د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز

د اریک د گرځنده کتابتونونو د خپرونو لړۍ

پرله پسې نومره: ۲۸